**اصل مضمون تایید**: ۹۸- ۹۸- ۱۳۹۸/۳/۲۵ **د حج درسونه او حکمتونه**

**اصلاح نهایی گردید**: **فولدر مضامین چاپ شده برج اسد ۱۳۹۸** (**لیکوال**: **محسن حنيف** )

دلته د حج هغه عمومي حکمتونه بیانېږي چي په قرآن کي يې يادونه شوې ده. اسلام د الله دين دی او الله حکیم ذات دی، کارونه او حکمونه يې ډېر حکمتونه اوګټي لري. دا بېله خبره ده چي ځيني وخت د هرعبادت سره یو ځای حکمت نه ذکرکېږي، يا د هرچا ذهن نه په رسېږي. خو داسي احکام هم لروچي حکمتونه اوګټي يې یو ځای ورسره ذکرشوي دي آن تردې چي په ځيني احکاموکي ګټي اوزيانونه سره پرتله شوي هم دي؛ لکه د شر ابو په مسأله که چي و ايي په دې کي لويه ګناه هم شته او خلکو ته ګټي هم لري، خو ګناه يې ترګټو ډېره لويه ده. په دې اړه سورة البقرة: ۲۱۹ وګوره. الله تعالی ويلي:

﴿ وَإِذۡ بَوَّأۡنَا لِإِبۡرَٰهِيمَ مَكَانَ ٱلۡبَيۡتِ أَن لَّا تُشۡرِكۡ بِي شَيۡـٔٗا وَطَهِّرۡ بَيۡتِيَ لِلطَّآئِفِينَ وَٱلۡقَآئِمِينَ وَٱلرُّكَّعِ ٱلسُّجُودِ ۝ وَأَذِّن فِي ٱلنَّاسِ بِٱلۡحَجِّ يَأۡتُوكَ رِجَالٗا وَعَلَىٰ كُلِّ ضَامِرٖ يَأۡتِينَ مِن كُلِّ فَجٍّ عَمِيقٖ ۝ لِّيَشۡهَدُواْ مَنَٰفِعَ لَهُمۡ وَيَذۡكُرُواْ ٱسۡمَ ٱللَّهِ فِيٓ أَيَّامٖ مَّعۡلُومَٰتٍ عَلَىٰ مَا رَزَقَهُم مِّنۢ بَهِيمَةِ ٱلۡأَنۡعَٰمِۖ فَكُلُواْ مِنۡهَا وَأَطۡعِمُواْ ٱلۡبَآئِسَ ٱلۡفَقِيرَ ۝ ثُمَّ لۡيَقۡضُواْ تَفَثَهُمۡ وَلۡيُوفُواْ نُذُورَهُمۡ وَلۡيَطَّوَّفُواْ بِٱلۡبَيۡتِ ٱلۡعَتِيقِ ﴾ الحج: ۲۶ – ۲۹

**ترجمه**: چي کله مي ابراهيم ته د بيت الله ځای وټاکی او حکم مي ورته وکړچي زما سره هيڅ شی مه شريکوه او د طواف کوونکو، دربېدونکو، رکوع او سجده کوونکو لپاره زما کورپاک وساته. په خلکوکي د حج اعلان وکړه، خلک به درته راشي پلي او پرهرتش نسي اوبن سپاره چي د هري لري لاري درته روان وي د دې لپاره چي خپلي ګټي ووېني او په معلوموورځوکي د الله نوم پرهغه څارويو حيوانانو ياد کړي چي دوی ته يې ورکړي، نو د هغو څخه خوړئ او خوراک ورکوئ هغه بدحالي فقيرته. بيا دي خپلي خيري لري کړي او خپل نذرونه دي پوره کړي او پرپخو اني کوردي طواف وکړي.

دلته په اجمالي ډول ويل شوي چي خلک دي د دې لپاره حج ته راشي چي خپلي ګټي مشاهده کړي. که د دغو ګټو تفصيل وغواړو دا به کومي ګټي وي؟ طبيعي ده چي ګټي هم مادي کېدای شي او هم معنوي؛ قرآن کريم چي د حج د بحث په پای کي ويلي: ﴿ رَبَّنَآ ءَاتِنَا فِي ٱلدُّنۡيَا حَسَنَةٗ وَفِي ٱلۡأٓخِرَةِ حَسَنَةٗ وَقِنَا عَذَابَ ٱلنَّارِ ﴾ البقرة: ۲۰۱

**ترجمه**: اې زموږ ربه! موږته هم په دنيا کي ښه حالت را په برخه کړه او هم په آخرت کي ښه حالت او د اورد عذابه مووساته.

دغه آيت د هغو خلکو دريځ سم بولي چي د دنيا او آخرت دواړوګټي ئې غوښتي. اول مادي ګټي دي او دويم معنوي دي.

په حج کي د مادي ګټو د جملو څخه تجارت او مالي لاس ته راوړنه هم ده؛ لکه قرآن کريم چي و ايي:

﴿ لَيۡسَ عَلَيۡكُمۡ جُنَاحٌ أَن تَبۡتَغُواْ فَضۡلٗا مِّن رَّبِّكُمۡۚ ... ﴾ البقرة: ۱۹۸

**ترجمه**: پرتاسو کومه ګناه نشته په دې کي چي( د حج په وخت کي په تجارت کولو سره ) د خپل رب څخه روزي وغواړئ.( په دې اړه د تفصيل لپاره: صحيح البخاري كتاب الحج بَابُ التِّجَارَةِ أَيَّامَ المَوْسِمِ: ۱۷۷۰ وګوره)

په حج کي د معنوي ګټو د جملې څخه راتلونکي برخي دي:

(أ) د الٰهي فرض ادا کول او د ګناه څخه خلاصون؛ لکه څرنګه چي په د فضايلو په بحث کي د دې خبري دلايل ياد شول.

د حج د مادي او معنوي ګټو د جملې څخه راتلونکي برخي دي:

۱- د مسلمانانو له حاله خبرېدل.

۲- د مختلفو دودونو څخه خبرېدل.

۳- د معلوماتو کچه يې پراخېدل، پند او عبرت اخيستل؛ څکه الله تعالی ويلي:

﴿ أَفَلَمۡ يَسِيرُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ فَتَكُونَ لَهُمۡ قُلُوبٞ يَعۡقِلُونَ بِهَآ أَوۡ ءَاذَانٞ يَسۡمَعُونَ بِهَاۖ فَإِنَّهَا لَا تَعۡمَى ٱلۡأَبۡصَٰرُ وَلَٰكِن تَعۡمَى ٱلۡقُلُوبُ ٱلَّتِي فِي ٱلصُّدُورِ ﴾ الحج: ۴۶

**ترجمه**: آيا دوی په ځمکه کي نه دي ګرځېدلي ترڅو داسي زړونه ولري چي عقل په وکاروي، يا داسي غوږونه ولري چي (حق) په واوري؛ ځکه (د حق څخه) سترګي نه ړندېږي، ليکن هغه زړونه ړندېږي چي په سينو کي دي.

۴- **د ورورولۍ او ملي يووالي درس**:

په حج کي ټول خلک: غريب او شتمن په يو ډول احرامي جامو کي الله تعالی ته درېږي. د دغه کارغوښتنه دا ده چي د دوی ترمنځ

دسيمي، رنګ، ژبې او حتی فقهي مذهب تعصب نه وي، بلکې ټول مسلمانان به په يو امام پسې لمونځ کوي او د مسلمانانو د هرمذهب شخص چې هملته ومري، همدا يو امام د کوم تبعيض پرته د ټولو مسلمانانو جنازه کوي.

۵- **د حوصلې، زغم او ښو اخلاقو درس**:

په حج کې د مختلفو سيمو، بېلابېلو ژبو خلک يو د بل سره په ډېره ښه فضا کې نږدې ژوند کوي، يو بل نه ځوروي؛ ځکه ټول د يوه ملت لارويان دي چې هغه د اسلام ملت دی؛ د دې ټولو څخه بايد افغان مسلمان ولس دا زده کړي چې يو بل څه ډول وزغمي او په آرامه ژوند ورسره وکړي؛ الله تعالی وېلي:

﴿ ٱلْحَجُّ أَشْهُرٌ مَّعْلُومَٰتٌ ۚ فَمَن فَرَضَ فِيهِنَّ ٱلْحَجَّ فَلَا رَفَثَ وَلَا فُسُوقَ وَلَا جِدَالَ فِى ٱلْحَجِّ ۗ ﴾ البقرة: ۱۹۷

**ژباړه**: حج معلومې مياشتې دي، نو که چا په دغو مياشتو کې د حج پرېکړه وکړه، ( احرام يې وتړی) نو بيا نه جنسي اړيکي، نه بې امري او نه جګړه شته په حج کې.

۶- **د سولې او امن راوستلو درس**:

د بيت الله په شاوخوا حرم کې داسې امن او سلامتي وي چې د نړۍ په هيڅ ځای کې نشته. خلکو ته په کارده چې د همدې ځايه د ځان سره د امن او سولې پيغام واخلي؛ (أ) ځکه د يوې خوا امن د حج مرکز بيت الله او هغه سپېڅلي چاپېريال شعار دی؛ د بيت الله په اړه الله تعالی وېلي دي: ﴿ إِنَّ أَوَّلَ بَيْتٍ وُضِعَ لِلنَّاسِ لَلَّذِى بِبَكَّةَ مُبَارَكًا وَهُدًى لِّلْعَٰلَمِينَ فِيهِ ءَايَٰتٌۢ بَيِّنَٰتٌ مَّقَامُ إِبْرَٰهِيمَ ۖ وَمَن دَخَلَهُۥ كَانَ ءَامِنًا ۗ ﴾ آل عمران: ۹۶ – ۹۷

**ترجمه**: يقيناً اولنی کور چې د خلکو لپاره ايښوول شوی همغه دی چې په مکه کې دی، مبارک او نړيوالو ته لارښود. په هغه کې ښکاره نښانې دي: د ابراهيم د ربځ او څوک چې ورننوزي خوندي(په امن) وي.

﴿ جَعَلَ ٱللَّهُ ٱلْكَعْبَةَ ٱلْبَيْتَ ٱلْحَرَامَ قِيَٰمًا لِّلنَّاسِ وَٱلشَّهْرَ ٱلْحَرَامَ وَٱلْهَدْىَ وَٱلْقَلَٰٓئِدَ ۚ ذَٰلِكَ لِتَعْلَمُوٓا۟ أَنَّ ٱللَّهَ يَعْلَمُ مَا فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِى ٱلْأَرْضِ وَأَنَّ ٱللَّهَ بِكُلِّ شَىْءٍ عَلِيمٌ ﴾ المائدة: ۹۷

**ژباړه**: الله د کعبې دا محترم کور د خلکو لپاره د قيام ذريعه ګرځولې او عزتمنه مياشت او نذرشوي او اميل په غاړه ځاروي هم، دا د دې لپاره چې پوه شئ چې الله په ټولو هغه شيانو پوهېږي چې په آسمانونو او ځمکې کې دي او دا چې الله په هر څه ښه پوه دی.

دلته الله تعالی کعبه او عزتمنې مياشتې خلکو ته د سمون ښلکې معرفي کړي دي. بيت الله او عزتمنې مياشتې د خلکو لپاره د سمون اوبقا ذريعه په دې ډول دي چې په دغو مياشتو کې هرومرو رامن او ډاډمنه فضا خلکو ته بر ابرېږي او که په بل وخت کې جګړه پيل شوې هم وي دا وخت به درول کېږي؛ ترڅو دا فُرصت ورکول شي چې دوی خپلې چارې سمې کړي؛ په عزتمنو مياشتو کې د جګړې د پيل کولو اجازه نشته، البته که چا يرغل وکړ، جواب يې کېدای شي. ( سورة التوبة: ۳۶ وسورة البقرة: ۱۹۴وګوره. عزتمنې مياشتې، څلوردي، جګړه پيلول په دغو مياشتو کې جوازنه لري او دا څلورمياشتې دي: ذوالقعده، ذوالحجة، محرم ورجب. (صحيح البخاري: ۴۶۶۲ وګوره).

د بيت الله چاپېريال( ټول حرم ) په هکله هم الله تعالی وېلي دي:

﴿ أَوَلَمْ يَرَوْا۟ أَنَّا جَعَلْنَا حَرَمًا ءَامِنًا وَيُتَخَطَّفُ ٱلنَّاسُ مِنْ حَوْلِهِمْ ۚ أَفَبِٱلْبَٰطِلِ يُؤْمِنُونَ وَبِنِعْمَةِ ٱللَّهِ يَكْفُرُونَ ﴾ العنكبوت: ۶۷

**ژباړه**: آيا دوی دې ته نه ګوري چې حرم مې امن والا جوړکړی دی په داسې حال کې چې د دوی په شا وخوا کې خلک تښتول کېږي، آيا نو دوی په باطل معبود باورکوي او د الله د نعمتونو څخه انکارکوي.

(ب) د بلې خوا حج د ابراهيم عليه السلام څخه د راپاته شوي تعليماتو برخه ده چې د خپل وطن د امن او اقتصاد په هکله يې قرآن کريم تکلاره داسې بيانوي:

﴿ وَإِذْ قَالَ إِبْرَٰهِيمُ رَبِّ ٱجْعَلْ هَٰذَا ٱلْبَلَدَ ءَامِنًا وَٱجْنُبْنِى وَبَنِىَّ أَن نَّعْبُدَ ٱلْأَصْنَامَ رَبِّ إِنَّهُنَّ أَضْلَلْنَ كَثِيرًا مِّنَ ٱلنَّاسِ ۖ فَمَن تَبِعَنِى فَإِنَّهُۥ مِنِّى ۖ وَمَنْ عَصَانِى فَإِنَّكَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ رَّبَّنَآ إِنِّىٓ أَسْكَنتُ مِن ذُرِّيَّتِى بِوَادٍ غَيْرِ ذِى زَرْعٍ عِندَ بَيْتِكَ ٱلْمُحَرَّمِ رَبَّنَا لِيُقِيمُوا۟ ٱلصَّلَوٰةَ فَٱجْعَلْ أَفْـِٔدَةً مِّنَ ٱلنَّاسِ تَهْوِىٓ إِلَيْهِمْ وَٱرْزُقْهُم مِّنَ ٱلثَّمَرَٰتِ لَعَلَّهُمْ يَشْكُرُونَ ﴾ إبراهيم: ۳۵ – ۳۷

**ترجمه**: چې کله ابراهيم وويل: اې زما ربه! دا وطن امن والا جوړکړې، ما او زامن مې د بُتانو د بندګۍ څخه لرې وساتې. اې ربه! بې شکه دوی ډېر انسانان ګمراه کړي دي، نو چا چې زما لارروي وکړه، هغه زما ملګری دی او چا چې زما بې امري وکړه نو بې شکه ته

بخښونکی مهربان يې. اې زموږ ربه! بې شکه ما خپل ځيني اولادونه ستا د عزتمند کورد څنګه په داسي مانده کي واوسول چي هغه بې کرهني دی، اې زموږ ربه! (دا) د دې لپاره چي لمونځ سم سيده وساتي؛ نو د خلکو زړونه داسي جوړکړې چي دوی ته ميل کوي، دوی ته د حاصلاتو څخه روزي ورکړې؛ ګوندي دوی ستا مننددوی جوړ شي.

دلته ابراهيم عليه الصلاة والسلام په خپله دعا کي د الله تعالی څخه د وطن امنيت، اقتصاد( خوړنيز توکي ) او د شرک څخه نجات غوښتی. نو دا ښيي چي د ابراهيم عليه السلام د ملت هرلارروی بايد خپل د وطن لپاره سوله، امن او پياوړی اقتصاد وغواړي؛ ځکه دا هغه نعمتونه دي چي ژوند ورسره سمېږي؛ د مشرکانو د پلمو په رد کي الله تعالی وېلي: ﴿ وَقَالُوٓاْ إِن نَّتَّبِعِ ٱلۡهُدَىٰ مَعَكَ نُتَخَطَّفۡ مِنۡ أَرۡضِنَآۚ أَوَلَمۡ نُمَكِّن لَّهُمۡ حَرَمًا ءَامِنٗا يُجۡبَىٰٓ إِلَيۡهِ ثَمَرَٰتُ كُلِّ شَيۡءٖ رِّزۡقٗا مِّن لَّدُنَّا وَلَٰكِنَّ أَكۡثَرَهُمۡ لَا يَعۡلَمُونَ ﴾ القصص: ٥٧

**ترجمه**: کافر انو وېلي: که د هغه هدايت لارروي وکړو چي ستاسره شته، موږ دخپلي ځمکي تښتول کېږو. آيا دوی ته مي په خوندي حرم کي ځای نه دی ورکړی چي د هر شي حاصلات ورته را جمع کېږي زموږ د لوري د روزی په توګه؟ خو د دوی ډېری نه پوهېږي.

دلته د حرم اړوند الله تعالی دوه نعمتونه ياد کړي دي: يو امنيت. بل هر ډول حاصلات( خوړنيز توکي ) ورته را رسېدل. امنيت او اقتصاد هغه لوی نعمتونه دي چي شکر ئې الله تعالی پر خپلو بندګانو فرض کړی، ورته وېلي ئې دي:

﴿ فَلۡيَعۡبُدُواْ رَبَّ هَٰذَا ٱلۡبَيۡتِ ٱلَّذِيٓ أَطۡعَمَهُم مِّن جُوعٖ وَءَامَنَهُم مِّنۡ خَوۡفِۭ ﴾ قريش: ٣ - ٤

**ژباړه**: نو خلک دي د دې کورد هغه څښتن عبادت کوي چي د لوږي څخه ئې وساتل او د وېري څخه ئې په امن کړل.

امنيت او اقتصاد هغه نعمتونه دي چي ناشکري ئې انسان د ذلت او خوارۍ سره مخامخ کوي؛ الله تعالی وېلي دي:

﴿ وَضَرَبَ ٱللَّهُ مَثَلٗا قَرۡيَةٗ كَانَتۡ ءَامِنَةٗ مُّطۡمَئِنَّةٗ يَأۡتِيهَا رِزۡقُهَا رَغَدٗا مِّن كُلِّ مَكَانٖ فَكَفَرَتۡ بِأَنۡعُمِ ٱللَّهِ فَأَذَٰقَهَا ٱللَّهُ لِبَاسَ ٱلۡجُوعِ وَٱلۡخَوۡفِ بِمَا كَانُواْ يَصۡنَعُونَ ﴾ النحل: ١١٢

**ترجمه**: الله مثال بيان کړی د يو ښار چي ببغمه وو، روزي ئې د هر ځايه په پراخه ډول ورته راتله خو د الله د نعمتونو نا شکري ئې وکړه، نو الله دوی په لوږي او وېري وپوښل د هغه څه په وجه چي دوی کول.

د يخو انيو يمني عربو يوه قبيله چي د سبأ په نامه يادېدل، په اړه ئې الله وېلي:

﴿ وَجَعَلۡنَا بَيۡنَهُمۡ وَبَيۡنَ ٱلۡقُرَى ٱلَّتِي بَٰرَكۡنَا فِيهَا قُرٗى ظَٰهِرَةٗ وَقَدَّرۡنَا فِيهَا ٱلسَّيۡرَۖ سِيرُواْ فِيهَا لَيَالِيَ وَأَيَّامًا ءَامِنِينَ فَقَالُواْ رَبَّنَا بَٰعِدۡ بَيۡنَ أَسۡفَارِنَا وَظَلَمُوٓاْ أَنفُسَهُمۡ فَجَعَلۡنَٰهُمۡ أَحَادِيثَ وَمَزَّقۡنَٰهُمۡ كُلَّ مُمَزَّقٍۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَٰتٖ لِّكُلِّ صَبَّارٖ شَكُورٖ ﴾ سبأ: ١٨ - ١٩

**ترجمه**: د دوی او هغه ښارترمنځ چي برکت مي په کي اچولی وو، يو بلته ښکاره کلي مي جوړکړه، د مزل اندازه مي په کې معلومه کړه(ورته مي وويل): د شپې او د ورځي ببغمه په کې ګرځئ. نو دوی وويل: اې زموږ ربه! زموږ د سفرونه په منځ کي لري والی راولې او د ځانو سره ئې ظلم وکړ، نو دوی مي د تاريخ برخه(عبرتي قصې) وګرځولې او په مکمل ډول مي سره ټوټه ټوټه کړل؛ په دې کارکي يقيناً هر صبرکوونکي احسان منونکي ته عبرتي دلائل دي.

کوم څه چي د وطن د امن او ارزښت په اړه دلته قرآن کريم ياد کړي دي، عقل هم دغه تأييدوي؛ ځکه نن تجربې دا ښوولې چي مسجد حرم ته هم څوک د خپل وطن د پېژندپاڼي پرته نه شي تلای، د دې سره چي په مسجد حرم کي الله تعالی ټولو خلکو ته مساوي حق ورکړي دی، په دې اړه يې وېلي دي:

﴿ وَٱلۡمَسۡجِدِ ٱلۡحَرَامِ ٱلَّذِي جَعَلۡنَٰهُ لِلنَّاسِ سَوَآءً ٱلۡعَٰكِفُ فِيهِ وَٱلۡبَادِۚ... ﴾ الحج: ٢٥

**ژباړه**: هغه مسجد حرام چي خلکو ته مي داسي ګرځولی چي د بهره راتلونکی او ځايي اوسېدونکی مي پکښې بر ابر ګرځولي دي.

دغه مسجد حرم چي د قرآن کريم په متن کي خلک په هغه کي بر ابر حق لري، دغه ته هم څوک د خپل ملي هويت يا پاسپورټ درلودلو پرته نه شي ورتلای.